# پهٔ مدینه منوره کښې د وفات کېدو

# فضائل

**29-May-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 29 مئي، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 2 ذو الحج، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# پهٔ مدینه منوره کښې د وفات کیدو فضائل

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د عشرهٔ ذو الحج فضائل
- پهٔ مدینه منوره کښې وفات کیدل افضل دي
- پهٔ تورات شریف کښې د جَنَّتُ البقیع ذِکر
- بغیر د حِساب نه جنَّت ته داخلیدل

پیشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً

ترجمه: د قيامت پهٔ ورځ باندې به پهٔ خلقو کښې د ټولو نه زيات نزدې ما ته هٰغه ګس وي، کوم چې پهٔ ما باندې د ټولو نه زيات درود شريف لولي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! درودِ پاک خومره اعلیٰ نيکي ده---!! د دې پهٔ برکت باندې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب نصيب کيږي- د دې حديثِ پاک لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: د قيامت پهٔ ورځ باندې به د ټولو نه پهٔ ارام هغهٔ وي څوک چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نزدې والي (يعنې قُرب) نصيب کيدلو ذريعه د درود شريف کثرت دے- (2)

---

[1]... ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلوة...الخ، صفحه:144، حديث:484۔

[2]... مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:100۔

حشر میں کیا کیا مزے وارفتگی کے لُوں رضاؔ | لَوٹ جاؤں پا کے وہ دامانِ عالی ہاتھ میں[1]

وضاحت: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق جوش ته وګورئ! فرمائي: اے رضاؔ د قیامت پهٔ ورځ باندې به د عشقِ رسول او د محبت او بے خودئ خوندونه اخلم، چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت لمن پهٔ لاس راشي نو پهٔ عشق او محبت کښې به د خوشحالئ نه پهٔ هوا شم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔[2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه کوو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به تول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښینم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عشرهٔ ذُو الـحج فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د برکتونو والا، د عزتونو والا میاشت ذُو الـحج تشریف راوړي، پهٔ حدیثِ پاک کښې فرمائیلے شوي دي چې د عزت او حرمت پهٔ لحاظ سره دا د ټولو نه د عظمت والا میاشت ده۔[3] د حدیثِ پاک مطابق د دې میاشت پهٔ وړومبو

1...حدائقِ بخشش، صفحه:104۔
2...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔
3...ابن ماجه، کتاب الفتن، باب حرمة دم المومن وماله، صفحه:633، حدیث:3931 مفهوماً۔

لسو ورځو کښې د يوې نيکۍ ثواب 700 چنده کولے شي- [1] پهٔ يو بل روايت کښې دي:
❁ پهٔ دې ورځو کښې نيکي کول افضل نيکي ده ❁ پهٔ دې ورځو کښې يوه ورځ روژه نيول، د يو کال د روژو برابر ده ❁ پهٔ دې شپو کښې قيام کول (يعني د شپې ويخ پاتې کيدل او عبادت کول) پهٔ شبِ قدر کښې د عبادت کولو برابر دے- [2]

هر ہر گھڑی ہے اِس کی عِزّ و فَضل میں یکتا | بادَل کرم کا چھایا، ماہِ حرام آیا
بڑھتی ہیں اِس میں قَدریں، نیکی کی یاد رکھنا! | کرنا نہ وقت ضَائِع، ماہِ حرام آیا

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور وکړئ چې څومره ښکلې او د فضيلت والا ورځې دي، الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، پهٔ دې مبارکو ورځو کښې ښه ډير عبادت وکړئ! ❁ ذِکرُ الله وکړئ! ❁ تلاوت وکړئ! ❁ نـمونځونه وکړئ! ❁ عِلمِ دِين زده کړئ! ❁ نفلي روژې اونيسئ! ❁ پهٔ لاس کښې تسبيح وساتئ! نن سبا خو ډيجيټل تسبيح هم راځي، هغهٔ کوټې ته واچوئ! چې تسبيح درسره وي نو پهٔ ګرځيدو، پهٔ ناسته پهٔ ولاړه به درته ياديږي او څهٔ نا څهٔ ذِکر او درود شريف به مو پهٔ خُله باندې راځي-

يوه اهمه او اسانه نيکي پهٔ دې ورځو کښې هم کيدے شي د الله پاک پهٔ فضل د وخت د کامِل ولي، شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ دې ورځو کښې روزانه پهٔ مَدَني چينل باندې لائيو مَدَني مذاکره (يعني د سوالونو او جوابونو سلسله) فرمائي، مَدَني مذاکره د عِلمِ دِين د زده کولو بهترينه ذريعه ده او عِلمِ دِين زده کول افضل ترينه نيکي ده، د مَدَني مذاکرې پهٔ ذريعه لکه چې مونږه د افضل ترينې نيکۍ کولو ثواب حاصلولے شو، الله پاک دې ښه نيت رانصيب کړي، کوشش وکړئ او روزانه پهٔ مَدَني چينل باندې ټوله مَدَني مذاکره وګورئ! او پهٔ توجه سره يــې وګورئ! که پوره نهٔ وي نو کـم از کـم يوه ګينټه

---

1...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:356، حدیث:3757۔
2...ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی العمل، صفحہ:211، حدیث:758۔

12 منټه پۀ مَدَني مذاکره کښې شرکت وکړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! ډير ثوابونه به مو نصيب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

مَدَنی مُذاکرہ ہے شَریعت کا خَزینہ | اَخلاق کا تہذِیب کا طَرِیقَت کا خَزِینہ

## د يو عظيم عاشقِ رسول ذِکرِ خِير

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ خلورم ذُو الحج د يو عظيم عاشقِ رسول د وصال ورځ ده، هٰغه عظيم عاشقِ رسول چا چې پۀ زرګونو عاشقِ رسول جوړ کړل ❀ هٰغه عظيم عاشقِ رسول د چا سيرت، صورت، کړه وړه، خوراک څښاک، اغوستل، د ژوند هره يوه ادا چې د سُنَّت پۀ رنګ کښې رنګ وه ❀ هٰغه عاشقِ رسول د چا پۀ ليدلو چې به د عاشقانو زړونه خوشحاليدل ❀ هٰغه عاشقِ رسول څوک چې به د ګنبد خضرا پۀ جلوو کښې ډوب وو ❀ هٰغه عاشقِ رسول د چا چې د مدينے منورې سره بے کچه محبت وو ❀ هٰغه عاشقِ رسول چا چې تکليفونه برداشت کړل خو مدينه منوره پريښودل يې خوښ نۀ کړل ❀ هٰغه عظيم عاشقِ رسول څوک چې محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپلو ښپو مبارکو کښې قبول کړو او پۀ بقيع پاک کښې يې ورته ځائے عطا کړو-

غرقِ عشقِ مصطفٰے، قُطبِ مدینہ طیبہ | فیض کا اِک سلسلہ، قُطبِ مدینہ طیبہ
ساکنِ شہرِ مدینہ، مرکزِ مہر و وَفا | مصدرِ حلم و حیا، قُطبِ مدینہ طیبہ

وضاحت: ❀ د حضرت قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ژوند، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق کښې ډوب وو ❀ د هغوئي د ذات مبارک نه د فيض دريابونه روان وو ❀ هغوئي د مدينے منورې استوګن ❀ د وعدې پوره کوونکے او ❀ د حلم او د حيا نمونه وه-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا عظیم عاشقِ رسول څوک دے---؟ ❁ دا د اِمامِ عشق او محبت اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ مُرید دے ❁ د کروړونو عاشقانو د سترګو تور دے ❁ د مدینے منورې د عاشق سیدي امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَہ پیر صاحب دے ❁ دُنیا هغوئي د قُطبِ مدینه حضرت ضِیَاءُ الدِّین مَدَنی رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ نوم پیژني۔

| | |
|---|---|
| عاشقِ مصطفٰی، ضِیاءُ الدّین | زاہد و پارسا، ضِیاءُ الدّین |
| جامِ عشقِ نبی پلا کے مجھے | مَست وبے خُود بنا، ضِیاءُ الدّین |
| موت آئے مجھے مدینے میں | کردو حَق سے دُعا، ضِیاءُ الدّین |
| مجھ کو دیدو بقیعِ غَرقَد میں | اپنے قدموں میں جا، ضِیاءُ الدّین (1) |

حضرت ضیاءَ الدّین مَدَني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د مسلمانانو د وړومبي خلیفه حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ اولاد کښې دے، (2) لکه چې د هغوئي فیضانِ عشق هم د عاشِقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه نصیب شوے وو ❁ هغوئي پهٔ اصل کښې د سیالکوټ (پنجاب، پاکستان) اوسیدونکے وو، د دې ځائے نه یې سفر وکړو او پهٔ بَغداد تیر شو او مدینے منورې ته حاضر شو، د دې ښار د فضاګانو سره یې دومره محبت وو چې هم د دغه ځائے شو، (3) هغوئي د 70 کالو نه د زیاتې مودې پورې پهٔ مدینه منوره کښې د تیرولو سعادت حاصل کړو۔ (4)

| | |
|---|---|
| پون سو سال تک مدینے میں | تم نے بانٹی ضِیا، ضِیاءُ الدّین (5) |

## مدینه منوره به نهٔ پریږدي او پهٔ هغې مئین به نهٔ ځي---!!

سیدي قطبِ مدینه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ قیام کښې د ډیرو تکلیفونو سره هم مخ شو، هٰغه

1...وسائلِ بخشش، صفحه: 562، 563 ملتقطاً۔
2...سیدی قطب مدینه، صفحه: 7۔
3...سیدی قطب مدینه، صفحه: 7، 8 ملخصاً۔
4...سیدی قطبِ مدینه، صفحه: 18 بتصرف۔
5...وسائلِ بخشش، صفحه: 562، 563 ملتقطاً۔

حسد کوونکي کومو چې به غوښتل چې هغوئي دلته ايسار نهٔ شي، د عاشقانو زړونو ته قرار نهٔ رسوي، هغوئي ډير ځل د هغوئي د دې ځائے نه د ويستلو هم کوششونه وکړل، ډير ځل يې انتظاميې ته د هغوئي د دروغو شکايتونه هم وکړل خو--- **دا د مدينے منورې ښار دے۔**

يہاں مَرضی نہیں چلتی کسی کی | مدینے والا ہی بُلوا رہا ہے

ښوک چې خوړ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ايساروِل غواړي، نو هغهٔ بيا ښوک ويستے شي---؟ سيدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل يو حسد کوونکي غلط شکايت وکړو، د کوم پهٔ وجه چې نوبت تر دې پورې راغلو چې پوليس زما سامان د کور نه بهر وويستو او پهٔ کوڅه کښې يې کيښودو او اوئې وئيل: **اوس تهٔ دلته نشې اوسيدے۔** فرمائي: پوليس والا پهٔ کوڅه کښې موجود وو، سامان يې هم پهٔ کوڅه کښې ايښودے وو، زهٔ هم هلته ولاړ ووم، ښنګه چې د پوليسو پام بدل شو، ما فوراً سترګې پټې کړې او د حرمِ پاک طرف ته لاړم۔

ٹُوٹ پڑتی ہیں بلائیں جِن پر، جن کو ملتا نہیں کوئی یاوَر
ہر طرف سے وہ پُرارماں پِھر کر اُن کے دامن میں چھپا کرتے ہیں

سيدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روضې مبارکې ته حاضر شو، د ښنو جنګلو مخې ته ودريدو او عرض يې وکړو: **يا رسولَ الله** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **زهٔ د دې ځائے نه تلل نهٔ غواړم، دلته پهٔ ښپو مبارکو کښې اوسيدل غواړم۔**

تیرے ٹکڑوں سے پلے، غیر کی ٹھوکر پہ نہ ڈال | جھڑکیاں کھائیں کہاں؟ چھوڑ کے صدقہ تیرا
کس کا مُنہ تکیے! کہاں جائیے! کس سے کہیے! | تیرے ہی قدموں پہ مِٹ جائے یہ پالا تیرا[1]

فرمائي چې درخواست مې وکړو او کله واپس لاړم نو څهٔ ګورم چې **پوليسو هُم پخپله زما سامان پهٔ کور کښې دننه کيښودے دے او ما ته يې هم د اوسيدو اجازت راکړو۔**

1...حدائقِ بخشش، صفحه:17 ملتقطاً۔

عاشقِ مصطفٰے ضِیاءُ الدِّین | زَاہِد و پَارسا ضِیاءُ الدِّین
تم کو قُطبِ مدینہ یامُرشِد! | علما نے کہا ضِیاءُ الدِّین

## د عاشق جنازه ده چې لره پهٔ درناوي سره اوچته شي---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! سیدي قُطبِ مدینه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پهٔ مدینه منوره کښې اوسیدو، هم دلته د وفات کیدو، پهٔ بقیعِ پاک کښې د دفن کیدو ډیر ارماني وو، پهٔ دې ارمان باندې هغوئي د 70 کالو نه زیاته موده پهٔ مدینه منوره کښې تیره کړله، اخر د رښتوني عاشقِ رسول رښتونے ارمان پوره شو- سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل عاشق پهٔ خپلو ښپو کښې قبول کړو-

پهٔ څلورم ذُو الـحج، کال 1401ھ (بمطابق 10 فروري، 1981ء) د جُمعې پهٔ ورځ د مسجدِ نبوي شریف مؤذِن چې کله اللّٰهُ اکبر، اللّٰهُ اکبر ووئیل او اذان یې شروع کړو نو هم د دې سره سیدي قطبِ مدینه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه کلمه مبارکه ولوستله او هغوئي د دې دُنیا نه یې رِحلت وکړو-

د جُمعې د نـمونځ نه پس د غسل او کفن سلسله وشوه، د سر مبارک لاندې یې د حُجرې مبارکې (یعني د ښنو جنګلو د دننه حصې) خاوره مبارکه کیښودے شوه، د حجرې مبارکې غِلاف او د کعبې شریفې د غِلاف ټوټې یې د سینې مبارکې د پاسه کیښودے شوې، د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او د داتا حُضُور رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دربار څادرونه پرې کیښودے شو، د مازدیګر د نـمانځه نه پس د درود او سلام لوستلو سره جنازه راواخستے شوه، د جنازې کولو نه پس هغوئي د مُواجَهَه شریف (یعني د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک) مخې ته پیش کړے شو- عاشقانِ رسول د درود او سلام نذراني وړاندې کولې، هٰغه وخت پهٔ جنازه باندې عجیبه وَجداني کیفیت راخور وو، د هغې نه پس جنازه د خوږ محبوب ذیشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښپو ته حاضره کړے شوه، دلته هم د درود او سلام نذراني پیش کړے شوې، بیا د بابِ جبریل طرف نه د بقیعِ پاک طرف ته روانه کړے

شوه، د اعلیٰ حضرت د قصيدې مباركې:

کعبے کے بدر الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں درود

او سلامِ رضا:

مصطفٰے جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام

اوازونه وو، پهٔ دغه مباركو اوازونو کښې جنازه مبارکه بقيعِ پاک ته ورسيدله- [1] سيدي قُطبِ مدينه رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه به وصيت فرمائيلو چې کله زهٔ وفات شم نو ما د اهلِ بيتِ پاک پهٔ ښپو کښې کيږدئ، زهٔ به پخپله د هغوئي ښپې اونيسم- نو پهٔ دې وصيت باندې عمل وکړے شو او د کونينو د شهزادګۍ سيده حضرت بي بي فاطِمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا د ښپو مباركو اړخ ته هغوئي دفن کړے شو- [2]

عشق کا پیکر شَرع کا پاسباں جاتا رہا | منزلِ مَقصُود کا روشن نشاں جاتا رہا
وہ رہا تو برکتیں ہی برکتیں تھیں بزم میں | وہ گیا تو برکتوں کا اِک جہاں جاتا رہا
وہ نبی کا تھا چہیتا، غوث کا تھا لاڈلا | اپنے پیر و مرشد کا دُلارا، مدح خواں جاتا رہا [3]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د سيدي قُطبِ مدينه رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه د سيرت او اخلاقو نه د رڼا اخستو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## که پهٔ وطن کښې مړ شوم نو څهٔ به کووم---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې خومره څانګړے قِسمت دے، خومره د رشک قابل مرګ دے- يو رښتونی عاشق د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ښپو کښې د

1... سیدی ضیاء الدین احمد قادری، جلد:2، صفحه:242 244 بتصرف۔
2... سیدی ضیاء الدین احمد قادری، جلد:2، صفحه:244۔
3... سیدی ضیاء الدین احمد القادری، جلد:2، صفحه:329۔

ځائے موندلو د پاره د 70 کالو نه زياته موده انتظار وکړو، مشکلات راغلل، صبر يـې کولو، د خپلو نه لرې، د خوئيندو وروڼو نه لرې پۀ مدينه منوره کښې اوسيدلو چې خواهش يـې وو نو صرف دومره چې پۀ بقيع پاک کښې يـې دفن کيدل نصيب شي، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يـې څنګه خيال وساتلو، څنګه کرم يـې وکړو، عاشقِ صادق يـې پۀ خپلو ښپو کښې قبول هم کړو نو پۀ کوم شان سره---!! سُبْحٰنَ الله! جنازه مبارکه څنګه مُواجَهَه شريف ته پيش کړے کيږي، کله ښپو مبارکو ته حاضريږي، اخر د درود او سلام پۀ اوازونو کښې د اهلِ بيت پاک پۀ ښپو کښې د ارام د پاره ځائے نصيب شو- الله پاک دې زمونږه هم داسې سعادت نصيب کړي، کاش چې ټول عمر مدينے منورې ته تلل راتلل نصيب شي، کاش! ډير کاش چې کله اخري وخت راشي نو د ګنبدِ خضرا شريف سورے وي، شنې جنګلې مخې ته وي، پۀ کلمه لوستلو او پۀ شونډو باندې درودِ پاک وي او د دُنيا نه رخصت شو-

| | |
|---|---|
| یُوں مجھ کو موت آئے تو کیا پوچھنا مرا | میں خاک پر، نگاہ درِ یار کی طرف |
| کعبے کے صدقے، دِل کی تمنّا مگر یہ ہے | مَرنے کے وقت مُنہ ہو درِ یار کی طرف |

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مدينے منورې يو ځانګړے شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې مدينه منوره څومره ځانګړے ښار دے---؟ اوس ما د يو عاشقِ رسول د وفات ذِکر وکړو، پۀ دې باندې سُبْحٰنَ الله! وئيلے کيږي- دا خو د الله پاک د وَلي، د ډير لوئي عاشقِ رسول سيدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکر وو، څوک عام انسان که عاشقِ رسول وي او مونږ ته ووئيلے شي چې فلانکے مدينے منورې ته تلے وو او هلته وفات شو، پۀ خوښه يا بے اختياره به زمونږه د خُلې نه سُبْحٰنَ الله! ووځي- مونږ به پۀ هغۀ باندې رَشک کوو-

حالانکې پۀ دُنيا کښې چې چرته هم، پۀ کومه سيمه کښې، که د ډير عمر نه پس هم څوک وفات شي نو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡنَ وئيلے کيږي، د خپلوانو سره يې لاس نيوه کولے شي، غمرازي کولے شي خو پۀ مدينه منوره کښې د وفات کيدو خبره بدله ده، څوک چې پۀ مدينه منوره کښې وفات شي، پۀ هغۀ باندې د غم کولو پۀ ځائے، عاشقانِ رسول رَشک کوي۔

| | |
|---|---|
| یہاں رہ کے جینا ہے مرنے سے بدتر | وہاں جا کے مرنا ہے، جینے سے بہتر |
| میسر جو ہو اُن کے قدموں میں رہ کر | وہی زندگی اصل میں زندگی ہے |

## مدينه منوره ښکلې ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مدينه منوره ډير د عظمت والا، ډيره د برکتونو والا، د فضيلتونو والا ښکلے ښکلے، خوږ خوږ ښار دے۔ الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيام د پاره پخپله د دې پاک ښار انتخاب وفرمائيلو او دې طرف ته يې د هجرت کولو حکم وکړو۔ پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

وَ الَّذِیۡنَ هَاجَرُوۡا فِی اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوۡا لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِی الدُّنۡیَا حَسَنَةً ؕ

(پاره:14، سورۀ نحل:41)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او کومو خلقو چې د الله پۀ لاره کښې خپل کورونه پريښودل پس د هغې نه چې پۀ هغوئي ظُلم وکړے شو نو مونږ به ضرور هغوئي ته پۀ دُنيا کښې ښه ځائے ورکوو۔

پۀ تفسيرِ طبري کښې دي: امام شعبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ دې آيت مبارک کښې د حَسَنه نه مُراد زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې مدينه منوره مُراد ده۔ (1)

1... تفسيرِ طبری، پاره:14، سورۀ نحل، زير آيت:41، جلد:7، صفحه:585، رقم:21591۔

علمائے کرام فرمائي: یو محبت کوونکے، د خپل محبوب د پاره د بهترین او ښکلي ځائے انتخاب کوي، الله رَبُّ الْعٰلَمِین د خپل خوږ محبوبِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د مدینے منورې انتخاب وفرمائیلو، د دې نه ثابته شوه چې مدینه منوره د ټولې دُنیا نه افضله او اعلیٰ، ښه او بهترینه ده۔ (1)

سارے نبیوں کا سَرور، مدینے میں ہے | سب رَسولوں کا اَفسر، مدینے میں
لُطف جنّت سے بڑھ کر مدینے میں ہے | میٹھے مَحبُوب کا گھر، مدینے میں ہے (2)

## پهٔ مدینه منوره کښې وفات کیدل افضل دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مدینه منوره کښې دے، ځکه علمائے کرام فرمائي: د ټولې دُنیا نه پهٔ مدینه منوره کښې مړه کیدل (او دلته دفن کیدل) افضل دي (ځکه چې داسې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کیږي)۔ (3)

اے کاش! مدینے میں مجھے موت یوں آئے | چوکھٹ پہ تری سر ہو مری روح چلی ہو (4)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ارمان---!!

مُوَطَّا اِمامِ مالِک د حدیثِ پاک د ټولو نه وړومبے کتاب دے، عظیم عاشقِ رسول حضرت اِمام مالِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دې کښې حدیثونه راجمع کړي دي۔ پهٔ دې کتاب مبارک کښې یو روایت دے، یو ځل څوک وفات شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغهٔ جنازه وکړه، مړے هدیرې ته یوړے شو، لا قبر تیاریدلو، نو رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف فرما شو، د قبر د تیاریدو انتظار یې

1... جذبُ القلوب، صفحه:20 بتصرف۔
2... وسائل بخشش، صفحه:489، 490۔
3... مرقاۃ المفاتیح، کتاب المناسک، باب حرم المدینه...الخ، جلد:5، صفحه:640، زیرِ حدیث:2757۔
4... وسائل بخشش، صفحه:314۔

کولو- پهٔ دې کښې یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ قبر ته ښکته وکتل او اوئې وئیل: بِئۡسَ مَضۡجَعُ الۡمُؤۡمِنِ یعنې دا د مؤمِن خومره بد کور دے-

محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله دا خبره واوریدله نو اوئې فرمائیل: تا بده خبره وکړه- عرض یـې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما دا مقصد نهٔ وو- ما خو دا وئیل غوښتل چې که د دهٔ د شهادت مرګ نصیب شوے وے نو خومره به ښه خبره وه- نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د شهادت خو هډو مثال نشته، البته! مَاعَلَی الۡاَرۡضِ بُقۡعَۃٌ ھِیَ اَحَبُّ اِلَیَّ اَنۡ یَکُوۡنَ قَبۡرِیۡ بِھَا دا سیمه (یعنې مدینه منوره) هغه د زمکې حصه ده چې د ټولې دُنیا پهٔ نسبت زما خوښه ده چې زما قبر به دلته جوړولے شي- (1)

شاہ! تم نے مدینہ اپنایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی
اپنا روضہ اِسی میں بنوایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی
ہر طرف رحمتوں کا ہے سایہ، واہ! کیا بات ہے مدینے کی
خوب رُتبہ عظیم ہے پایا، واہ! کیا بات ہے مدینے کی (2)

## نیغه لاره د شفاعت ښار ته دا ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! علّامه سَمهُودي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: صرف د مدینے منورې دا شان دے چې باقاعده پهٔ حدیثِ پاک کښې دلته د وفات کیدو ترغیب ورکړے شوے دے، دا ترغیب د دُنیا د بَل هیڅ یو ښار پهٔ باره کښې نشته- (3)

ترغیب څهٔ دے؟ حدیثِ پاک واورئ! محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنِ اسۡتَطَاعَ اَنۡ یَّمُوۡتَ بِالۡمَدِیۡنَۃِ فَلۡیَفۡعَلۡ، فَاِنِّیۡ اَشۡفَعُ لِمَنۡ مَاتَ بِھَا یعنې د چا نه چې کیدے شي، هغهٔ

1...موطا امام مالک، کتاب الجهاد، باب الشهداء فی سبیل الله، صفحه:236، حدیث:996-
2...وسائلِ بخشش، صفحه:388 ملتقطاً-
3... وفاء الوفا، الباب الثانی، الفصل الثالث...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:46-

دې پهٔ مدينه کښې مړ شي، پس چې څوک پهٔ مدينه کښې مړ شي، زهٔ به د هغهٔ شفاعت کووم- (1)

طیبہ میں مَر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند | سیدھی سڑک یہ شہرِ شَفاعت نگر کی ہے (2)

وضاحت: خومره به ښه وي چې د مدينے منورې مرګ مې نصيب شي او سترګې پټې کړم او پهٔ ارام او سکون سره لاړ شم---! چې دا د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت ته رسوي-

## خپل پوره کوشش وکړئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو پهٔ ذِهن کښې هم کيدے شي چې سوال پيدا کيږي چې مرګ خو زمونږه پهٔ اِختيار کښې نهٔ دے- مونږهٔ خو نهٔ پهٔ خپله خوښه پيدا شوي يو او نهٔ به پهٔ خپله خوښه مړه کيږو-

لائی حیات آئے، قضا لے چلی چلے | اپنی خوشی نہ آئے، نہ اپنی خوشی چلے

چې کله معامله داسې ده، پهٔ خپله خوښه، د خپل مرګ د ځائے انتخاب هم نشو کولے نو بيا دا ترغيب ولې راکړے شو؟ ولې ووئيلے شو چې **پهٔ مدينه کښې مړه شئ---!!** د دې څهٔ مطلب دے؟ علمائے کرام فرمائي: د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مطلب دا دے چې خپل پوره کوشش وکړئ---!! خپل ټول طاقت پهٔ دې باندې ولګوئ چې مونږ له مرګ پهٔ مدينه منوره کښې راشي- (3)

يعني مونږ به چرته مړه کيږو، دا خو د الله پاک خوښه ده، زمونږه پهٔ ذمه دا دي چې مونږه پهٔ مدينه منوره کښې د مړه کيدو خومره کوشش کولے شو، مونږه هم هغه همره کوشش وکړو- مثلاً مونږه پهٔ مدينه منوره کښې د مړ کيدو دعاګانې کولے شو؟ زمونږه پهٔ

1...مسند احمد، جلد:3، صفحه:257، حديث:5566-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:222-

3... فضائلِ مدينه، صفحه:189 بتصرف-

وَس کښې دي--!! څکه پۀ مدينه منوره کښې د مړ کيدو دعاګاني وکړو، ښه پۀ ژړا ژړا يــې وکړو، پۀ سلګو سلګو يــې وکړو، سر پۀ سجده يــې وکړو، د تهجدو د پاره راپاڅو او وه يــې کړو: يا الله پاکه! پۀ مدينه منوره کښې مو مړه کيدل نصيب کړې-

نہ اور کوئی تمنّا نہ جُستَجُو ٹھہرے | دل و نظر میں مدینے کی آرزو ٹھہرے
دُعا ہے ربّ سے مدینے کا ایک اک مَنظَر | بَہ وقتِ مَرگ بھی آنکھوں کے رُوبرُو ٹھہرے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا

تاسو ته معلومه ده؟ پۀ مدينه منوره کښې د وفات کيدو دعا کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طريقه مبارکه ده- آؤ جي--!! پۀ روايتونو کښې دي، چې کله به رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مکے مکرمې ته تشريف يوړلو، هلته به يــې دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ مَنَايَانَا بِهَا حَتّٰى تُخْرِجَنَا مِنْهَا يعني اے الله پاکه---!! مونږ ته پۀ مکه کښې مرګ مۀ راکوې، تر دې چې مونږ د دلته نه وګرځو (يعني واپس مدينے منورې ته ورسو)- (1)

مَدینے میں آقا ہمیں موت آئے | بنے کاش! مَدفن ہمارا مَدینہ (2)

## د قيامت پۀ ورځ باندې به يــې امن نصيب کيږي

د حضرت اَنس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې خاتَمُ المُرسَلين، رَحمةٌ لِّلعَالَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، کوم کَس چې پۀ دوو حَرمُونو (يعني پۀ مدينه منوره او مکه مکرمه) کښې پۀ يو کښې وفات شي د قيامت پۀ ورځ باندې به پۀ امن والؤ کښې راپاڅولے شي- (3)

---

1...مسند احمد، جلد:3، صفحه:88، صفحه:4882-
2...وسائلِ بخشش، صفحه:355-
3... شعب الايمان، باب في مناسک فضل الحج والعمرة، جلد:3، صفحه:490، حديث:4158-

الله! څومره لوئي انعام دے، څومره لوئي زيرے دے، څومره لوئي بشارت دے، د قيامت 50 زره کاله اوږده ورځ ❀ نمر به يو نيزه پهٔ سر باندې د پاڅه ولاړ وي او وور به وروي ❀ د اوسپنې پهٔ توده زمکه باندې به ښپې ابله ښپې ودرولے شي ❀ پهٔ کومه ورځ باندې چې به پلار زوي هير کړي ❀ پهٔ کومه ورځ باندې به چې مور د لور نه ځان خلاصوي ❀ پهٔ کومه ورځ باندې چې به د هر چا سره د ځان فِکر وي- پهٔ داسې خطرناکه ورځ باندې به چې د کومو خلقو امن و امان نصيب کيږي، څوک چې به پهٔ راحت کښې وي، څوک چې به پهٔ ارام سره ورځ تيروي هغوئي به څوک وي؟ جي! جي! هغوئي به وي د چا چې پهٔ مکه مکرمه کښې مرګ نصيب شوے وي، څوک چې پهٔ مدينه منوره کښې دفن کړے شوے وي- الله پاک دې زمونږه هم د شهادت مرګ نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

مجھے مَرنا ہے آقا گُنبدِ خَضرا کے سائے میں | وطن میں مَر گیا تو کیا کروں گا یارَسُولَ الله! (1)

## د جَنَّتُ الـبقيع ذِکر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! که پهٔ مدينه منوره کښې وفات کيدل نصيب شي نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! بقيع به هم نصيب شي-

میں ہوں سُنّی رہوں سُنّی مروں سُنّی مدینے میں
بقیع پاک میں بن جائے تُربَت یارَسُولَ اللہ! (2)

د بقيع مبارک د شان او عظمت به څهٔ وايم! پهٔ روايتونو کښې دي چې کله خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت وکړو او مدينے منورې ته يې تشريف راوړلو نو هغوئي د هديرې د پاره ځائے لټولو- اخر نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بقيع پاک منتخب کړو او

1...وسائلِ بخشش، صفحه:322۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:331۔

اوئې فرمائيل: **ما ته د دې ځائے يعنې د بقيع (د هديرې جوړولو) حکم شوے دے۔** (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د بقيعِ پاک انتخاب د الله پاک پۀ حکم باندې وکړے شو۔

کیا جنّتُ البقیع کی شانِ رفیع ہے | بُرجِ فلک ہر ایک مزارِ بقیع ہے
خُلدِ نِعم جہاں میں یہی ارضِ پاک ہے | کُحلُ البصر یہیں کی زمانے میں خاک ہے

**وضاحت:** د جَنَّتُ الـبقيع شان خومره اوچت دے چې دلته موجود هر يو پاک مزار د اسمان د رڼا د برجونو پۀ شان دے، داسې دې ووئيلے شي چې لکه نهم جنَّت دے، د دې ځائے خاوره د ټولې زمانې د سترګو رانجه دي۔

## پۀ تورات شريف کښې د جَنَّتُ الـبقيع ذِکر

حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: مونږه پۀ تورات شريف کښې لوستلي دي، د دې (يعني د جَنَّتُ الـبقيع) نوم **کُفتَه** دے، فرښتے د دې نګراني کوي، چې کله دا هديره ډکه شي نو فرښتے دا د دواړو اړخونو نه اوچته کړي او جنَّت ته يې واچوي۔ (2)

مَدفُون جو یہاں ہے وہ غم سے ہے رَستگار | دوزخ کا کچھ عذاب نہ مَرقَد کا ہے فِشار

**وضاحت:** پۀ جَنَّتُ الـبقيع کښې چې څوک هم دفن دے، د الله پاک پۀ کرم باندې د هر قِسمه غم او پريشانۍ نۀ محفوظ او نجات حاصلوونکے دے، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! دۀ له به نۀ د دوزخ عذاب ورکولے کيږي او نۀ د قبر۔

## بغير د حِساب نه جنَّت ته داخليدل

علّامه سَمهُودي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ نقل کوي: يو ځل نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جنَّتُ الـبقيع ته تشريف يوړلو، چې کله هلته ورسيدو نو ارشاد يې وفرمائيلو: الله پاک به د دې

---

1... مستدرک، کتاب معرفة الصحابه، جلد:4، صفحه:191، حديث:4919۔
2... وفاء الوفا، الباب الثانى، الفصل السابع...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:68۔

هديرې نه 70 زره کسان بغير د حساب او کتاب نه جنَّت ته داخلوي۔ [1]

| | |
|---|---|
| تختہ رياضِ خُلد کا ارضِ بقيع ہے | کيا جنّتُ البقيع کی شانِ رفيع ہے |
| ہے جنّتُ البقيع بزرگوں کی يادگار | ہيں اہلِ بيتِ پاک کے اکثر يہيں مَزار |
| اصحابِ مصطفٰی بھی يہاں دفن ہيں | قبروں سے جن کی اِس کے مَراتِب بلند ہيں |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو اهم وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته يو وضاحت کووم- پۀ مدينه منوره کښې د وفات کيدو ډير فضيلت دے، دلته به د وفات کيدونکو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب کيږي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د قبر د عذاب نه به نجات ميلاؤيږي، که الله پاک وغوښتل نو بغير د حساب نه به جنَّت ته داخليدل هم نصيب شي، خو ياد ساتئ چې دا ټول فضيلتونه د عاشقانِ رسول د پاره دي، د بد مذهبو او د غير مسلمو د پاره دا فضائل نشته، ګني وګورئ چې خومره منافقان بلکې د منافقانو سردار عبد الله بن اُبَيّ بن سَلول هم دلته دفن دے، هغۀ يقيناً چې د عذاب حقدار دے-

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ (پاره:5، سورهٔ نساء:48) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه الله دا خبره نۀ بخښي چې د هغۀ سره شِرک وکړے شي- |

معلومه شوه چې د بخښنې او د عذاب نه د بچ کيدو د پاره د ټولو نه وړومبے شرط د عقيدې صحيح والے دے، چې عقيده صحيح وي نو ډير فضيلتونه دي او که عقيده صحيح نۀ وي نو پوهه شئ چې بنده هيڅ نۀ دے- الله پاک دې مونږ ته پۀ رښتينو او صحيح

1... وفاء الوفا، الباب الخامس، الفصل الخامس...الخ، جز:3، جلد:2، صفحه:79۔

اِسلامي عقيدو باندې اِستقامت راعطا کړي- کاش چې د ايمان د سلامتيا سره، د عافيت سره، د شين ګنبد پهٔ سوري کښې، د شنو جنګلو مخې ته مرِه کيدل او پهٔ جنَّتُ الـبقيع کښې د دفن کيدل مو نصيب شي-

اے کاش! مدینے میں مجھے موت یوں آئے | چوکھٹ پہ تری سر ہو مری روح چلی ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قربانۍ څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اِسلام او د مسلمانانو پهٔ خدمت کښې مصروف دے، پهٔ دې نيک کارونو کښې تاسو هم خپله حصه شامله کړئ! لوئي اختر رانزدې دے، عاشقانِ رسول به د قربانۍ سعادت حاصلوي- خواست دے چې د خپلو خپلو ځارو څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم يا څرمن پهٔ ذريعه به پهٔ ټوله دُنيا کښې دِيني، اِصلاحي، رُوحاني او د خير ښيګړې کارونه کولے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دا به ستاسو د پاره صدقهٔ جاريه وي- د دې سره سره پهٔ خپله کوڅه او محله کښې، خپلو خپلوانو ته فون وغيره وکړئ او هغوئي له هم د دې ترغيب ورکړئ! پهٔ خپل کوشش باندې څرمنې هم راجمع کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې به هم برکتونه در نصيب کيږي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: چا چې د څهٔ خير طرف ته رهنمائي وکړه هغهٔ ته به پهٔ دې باندې د عمل کوونکي همره ثواب ميلاويږي-[1]

د څرمنو راجمع کولو پهٔ باره کښې يو څو احتياطي تدبيرونه وړاندې کولے شي: ❀ د الله پاک د رضا د پاره څرمنې راجمع کړئ ❀ د څرمنو راجمع کولو پهٔ وخت د نـمونځونو پابندي وکړئ ❀ د بدبوداره جامو سره جومات ته د تللو نه ډډه وکړئ، دې د پاره يوه صفا سوترا جوړه د ځان سره وساتئ ❀ جومات، مدرسه وغيره پهٔ وينو د ګنده کولو نه بچ کړئ ❀ چا چې يوې بَلې

1...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حديث:2671۔

اداري ته د څرمنې ورکولو وعده کړې وي پهٔ هغوئي باندې وعده مهٔ ماتوئ ❁ چا ته غصه مهٔ کوئ ❁ د څرمن ورکوونکي پهٔ ښه طریقه مننه وکړئ ❁ پهٔ داسې ځائے کښې د څرمنو راجمع کولو سټال مهٔ لګوئ چرته چې خلقو ته پهٔ تللو راتللو کښې تکلیف وي۔

عطّارؔ سے محبوب کی سُنَّت کی لے خدمت | ڈنکا یہ تِرے دین کا دُنیا میں بجادے[1]

اللّٰه پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پهٔ زړهٔ کښې د مدینے منورې د عشق زیاتولو، د مدینے منورې یاد، د مدینے منورې د ذِکر کولو، او د نیکو والا ژوند تیرولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او پهٔ 12 دِیني کارونو کښې هم ښه پوره حصه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دُنیا او د اخرت بے شمیره برکتونه به مو نصیب شي۔ پهٔ 12 دِیني کارونو کښې یو دِیني کار روزانه د نیک اعمال رسالې نه د خپلو اعمالو جائزه اخستل هم دي۔

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: عقل مند هغهٔ دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل وکړي [2] ❁ د ځان د اصلاح او د شیطان نه د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو۔ پهٔ اوسني وخت کښې امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طریقه ښودلې ده: رساله نیک اعمال ❁ د زیات عمر اسلامي ورونړو د پاره پهٔ نیک اعمال رساله کښې 72 سوالونه او

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:112۔
2...ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:583، حدیث:2459۔

جوابونه ليکلے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ❁ د ښه اِسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ❁ د دې پهٔ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده-

تاسو هم دا رساله واخلئ! د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! ډيره فائده به در نصيب شي ❁ اخلاق به مو ښه کيږي ❁ کردار به مو ښه شي ❁ عادتونه به مو ښه شي ❁ پهٔ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ❁ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ❁ زړهٔ به مو روښانه شي ❁ د الله پاک محبت به مو نصيب شي ❁ عشق رسول به زيات شي ❁ روحانيت به ميلاو شي او ❁ د آخرت فکر به مو نصيب شي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نيک اعمال رسالې برکتونه

د نيو کراچۍ د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې د جومات امام صاحب څوک چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لري، هغهٔ انفرادي کوشش وکړو او زما مشر ورور له يـې نيک اعمال رساله پهٔ تحفه کښې ورکړه- هغهٔ کور ته راوړه او اوئې لوستله نو حيران شو چې پهٔ دومره مختصره رساله کښې يو مسلمان ته د اِسلامي ژوند تيرولو څومره بهترينه فارمولا ورکړے شوې ده! د نيک اعمال رسالې ميلاويدو پهٔ برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغهٔ د نـمونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعې سره د نـمونځ کولو د پاره جومات ته حاضر شو او اوس پينځهٔ وخته نـمونځ ګزاره جوړ شوے دے، ګيره مبارکه يـې هم پريښودې ده او پهٔ پابندۍ سره د نيک اعمال رسالې نه جائزه اخلي-

نیک اعمال کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یاالٰہی!خوب برسا رحمتوں کی تُو جھڑی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعنې پۀ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پۀ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، پۀ آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پۀ مرستې سره پۀ اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ذُو الحج شريف مبارکه مياشت روانه ده، د دې مبارکې مياشت پۀ وړومبو لسو ورځو کښې شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه روزانه د شپې تقريباً 9:30 بجې پۀ مَدَني چينل باندې مَدَني مذاکره کوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يا خليفۀ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **30 روحاني علاجونه** رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره

استعمالوي هغوئي دي د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ د قربانۍ کولو د پاره پۀ اسانۍ سره د زده کيدونکو مسئلو او د قربانۍ پۀ فضائلو ليکلے شوې د مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **ابلق گھوڑے سوار**، د مکتبة المدينه د يوې خانګې نه پۀ **30 روپۍ** او پۀ دې موضوع باندې د ماشومانو د تربيت پۀ باره کښې د اميرِ اهلِسُنَّت ليکلے شوې يوه بله رساله **بیٹا ہو تو ایسا**، هم د مکتبة المدينه د يوې خانګې نه پۀ وړوکي سائز کښې پۀ **60 روپۍ** او پۀ غټ سائز کښې پۀ **120 روپۍ** بيعه واخلئ! پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي- [(1)]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غوښه خوړل سُنَّت دي

**د خوږ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دوه فرامين مبارک: (1)** غوښه د دُنيا او د اخرت د خوراکونو سرداره ده- [(2)] **(2)** غوښه پۀ چاړه باندې د کټ کولو سره نۀ (بلکې پۀ غاښونو باندې) راشوکوئ او خورئ، دا ډيره خوندوره ده- [(3)]

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...معجم اوسط، جلد:7، صفحه:271۔

3...ابو داود، كتاب الاطعمة، باب فى اكل اللحم، صفحه:597، حديث:3778۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** حلاله غوښه خوړل هم سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي، علمائے کرام فرمائي: غوښه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير خوښ خوراک وو۔[1] ❀ د چيلۍ، چرګ، اوښ، سوبي [يعني د خرګوش] ، او د مهي [يعني کب] غوښه خوړل د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي۔[2] ❀ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چيلۍ د څټ،[3] مَټو (يعني د مخکښينو ښپو)،[4] او د هغې د ورنانو [يعني پتونانو] غوښه خوښه وه۔[5]

**د غوښې فائدے او احتياطونه:** ❀ علامه احمد بن محمد قَسطَلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د چيلۍ د ټولو نه سپک خوراک د څټ، د مخکښينو ښپو او اوګو وي، دا د معدې د پاره سپک وي او زر هضميږي۔[6] ❀ غوښه بدن ته پروټين، آئرن، وټامن ***B*** وغيره ورکوي او وټامن ***A*** او ***B*** د هډوکو، غاښونو، سترګو، دماغو او خرمن د پاره فائده مند دي۔[7] ❀ غوښه وينه صفا کوي ❀ 70 قوتونه زياتوي ❀ او د دې د خوړلو سره عقل زياتيږي۔[8] ❀ غوښه د اوريدو طاقت زياتوي۔ ❀ البته د ډيرې غوښې خوړلو نه ځان ساتل پکار دي چې ډيره غوښه خوړل د زړۀ د سخت والي سبب دے۔[9] ❀ د دې زيات استعمال د کينسر، د زړۀ د مرضونو، شوګر، معدې او د ځيګر (***Liver***) د بيمارو سبب جوړيدے شي۔[10] ❀ بالغو ګسانو ته د ورځې 70 ګرمه او پۀ هفته کښې 500 ګرامه يعني نيم کلو غوښه خوړل پکار

1...المواہب اللدنيه، المقصد الثالث، الفصل الثالث...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:2، صفحه:128۔
2...المواہب اللدنيه، المقصد الثالث، الفصل الثالث...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:2، صفحه:130۔
3...مسند امام احمد، مسند النساء، جلد:11، صفحه:168، حديث:27790۔
4...ترمذی، کتب الاطعمة، باب ماجاء ای اللحم...الخ، صفحه:455، حديث:1837۔
5...بخاری، کتاب احاديث الانبيا، باب قول الله تعالٰی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا...الخ، صفحه:851، حديث:3340۔
6...المواہب اللدنيه، المقصد الثالث، الفصل الثالث...الخ، النوع الاول...الخ، جلد:2، صفحه:129۔
7...ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:53۔
8...مدارج النبوة، باب یاز دہم در عبادات و طعام و شراب وغيره، جز:1، صفحه:458 ملتقطاً۔
9...مدارج النبوة، باب یاز دہم در عبادات و طعام و شراب وغيره، جز:1، صفحه:458 ۔
10...ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:54۔

دي- د هفتې درې يا د دې نه زيات ځل پۀ غوښه خوړونکو ګسانو کښې د مختلفو بيمارو امکانات زياتيږي- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا قرض کا بار ہو، بے کسی یار ہو
پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو چاہو گر راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې

1...ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:54-

سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كنبې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي[3] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

3...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَاهُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهما نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1…القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥
2…القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧
3…افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٣٩

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵